# د سیگرټو نسوارو او نشیي توکو زیانونه

**استاد احمد گل**

زموږ په ټولنه کې یو بل ناوړه دود دادی چې ځینې وګړي په ځانګړې توګه ځوانه طبقه په سګرټو، نسوارو او مخدره توکو عادت دی چې دا ډېر زیان لرونکی عادت او دود دی چې زیان او نقصان یې یوازې اخته خلکو پورې ندي خاص، بلکې ټولو وګړو ته سر ایت کوي، د سګرټو، نسوارو او نشه یې توکو زیانونه خورا زیات دي: ځاني، روحي، ټولنیز، اقتصادي او همدارنګه اخروی زیانونه لري چې ځینې یې عبارت دی له دې چې: غاښونه، ووری، ستونی، سږي خرابوي په بوی او لوګې سره یې نوروته ضرررسیږي په دې کې مال بې ځایه مصرف کیږي او اخته خلک ځانونه او نور په تدریج سره د هلاکت کندې ته سوق کوي همداسې د زړه تکان زیاتوي د بدن دفاعی سیستم کمزوری کوي، د مرکزي اعصابو د سیستم فعالیتونه کمزوري کوي، د ستونې او سږو سرطان پیداکوي، د وینې فشارزیاتوي، د باصرې، شامې او ذایقې حسونه کمزوري کوي، د وینې کلسترول زیاتوي، په معتاد سړي کې لټي او کمزورتیا رامنځته کوي، د زړه د ناڅاپي دریدلو( سکتې) لامل کیږي، په تنفسی سیستم کې ګډوډی رامنځته کوي او روحي ګډوډي ستړیاً پریشاني، ګوښه توب او داسې نورزیانونه لري.

غواړم لومړی د مخدره توکو تعریف او بیا یې اساسي ډولونه او حکم بیان کړم:

**د مخدره توکو لغوی تعریف**:

مخدره توکې په لغت کې: د مخدره کلمه د( خِدر) له کلمې څخه اخیستل شوي ده، چې خدرد پټوالي، کمزورۍ، سستۍ او تنبلی په معنې راځي. ( تخدرالعضو) دا کلمه عرب په هغه وخت کې استعمالوي چې یو اندام یې شل شي او حرکت ونشي کړای، په بل عبارت سره د ډار، وروسته پاتې کیدل، سرګرځیدنې او داسې نورې معانی له ځانه سره لري او دا په هغه چاکې ښه شتون پیداکوي چې په مخدره موادوروږد وي، دا مخدره توکې د مایعو لکه شراب او یا دجامدو لکه تریاک او یا د دخانیاتو یعنې د لوګې لکه چرسو په ډول استعمال کیدای شي.[۱]

**د مخدره توکو غوره مصطلع تعریف**: علماوو د مخدره توکو د اصطلاح له پلوه ډیر تعریفونه کړي دي چې د هغوڅخه جامع او مانع تعریف دا دی: مخدره توکې هغه څه دی چې عصبی او عقلی جهازپه مستۍ سره او یاپه له منځه وړلو او یا په کمزورۍ او یا په وهم او تخیل سره متأثرکوي، چې د عادت(اموخته) کیدو خاصه له ځان سره لري چې په نتیجه کې اقتصادي او ټولنیززیانونه فرد او ټولنې ته رسیږي.[۲]

**د ځینې علماوو له لوري د څیړنې له پلوه د مخدره توکو تعریف**: یعنې هغه کیمیایي ماده ده چې د پرکالی، خوب، د هوش او فکرد پټوالی سره د درد د تسکین په سبب ګرځي، او ځینې نورعلما و ایی مخدره توکو هغه ماده ده چې د فرد او ټولنې روغتیا ته زیان رسوي،[۳]

مخدره توکې په لاندینیوډولونو ویشل شوي دي.

1- **طبی مخدرات**: دا هغه درمل دی چې له کیمیاوی موادو څخه جوړیږی د دوی تاثیرد طبیعی او مصنوعی موادو په څیردی، چې د ګولیو، کپسولو، پودرو، درملو او مشروباتو په شکل استعمالیږی.[۴]

**افیون( تاریاک افییم**): تریاک هغه مخدره مواد دی چې په کیمیایی ډول جوړیږي او د مخدره موادو په منځ کې ډیرضرري شمیرل کیږي. خوندېې تریخ او اثریې نشه لرونکی او وژونکی دی، همداررازدهغو له پوډرو څخه د ډیرو طبی دواګانو په جوړښت کې هم استفاده کیږي.

**د افیونو اغیزې**: کله چې یو انسان په تریاکو روږدی شي، نو هغه یې د ژوند یوه برخه وګرځي، چې دهغه بدن پرته دهغه له استعمال څخه کارنه شی کولای، هرکله چې هغه ته لاس رسی پیدا نکړي، نو له مختلفو دردونو سره مخامخ کیږی او صحت یې له منځه ځي، د اندامونو په کمزورۍ د حافظې په کمزوۍ د اشتها کمښت په ځیګرکې د اختلال په پیداکیدو، د سترګو د رنګ بدلیدل، د تنفس او نبض سختیدل، د بدن حرارت ټیټیدل او نوربد اثرات ددې وژونکې وبا په سبب منځ ته راځي افیون یوه توربخنه نسواري ماده ده چې د یوه بوټې له شیرې څخه چې کوکنارنومیږي لاس ته راځي، د انسانانو معلومات دافیونو او دهغه د طبیی تاثیر اتو په اړه کم ترکمه څلورسوه کاله مخکې ترمیلاده رسي. [۵]

**افیون روغتیا ته قوي ګواښ دی**:

د اپینو استعمال بیلا بیل زیانونه لري لکه: مسمومیت، د زړه ناروغی، ډنګرتوب او د بدن عمومی کمزوري، د سږو سرطان، د حافظې کمزوري، د بدن وزن کموالی، د ستړیااحساس، د جنسی میل کمزوري.

2- **جوزبویا**: دا دې هغه مخدره توکو څخه یادیږي چې په طبیعی ډول مخدردی په عربی ژبه کې ورته( جوزة الطبیب) ویل کیږی په ګرمو هیوادونو کې کرل کیږی لکه هندوستان او داسې نور، د جوزبویا اغیزې دا دي چې خوله وچوي، معده کمزورې کوي، د نورو ناوړه پیښو اثرات هم لري او تنده مینځ ته راوړي.

3- **حشـیش( چـرس)**: عبـارت لـه هغـه شـیرې څخـه دی چې د بوټـو او ګلانوڅخـه لاسـته راځي، د حشیشـو اغیزد ماری جو انـا پـه نسـبت درې او یـا څلورچنده زیاته دی. ماری جو انا داسې پوډردی چې د میوه دارو یا ګلدارو بوټو څخه لاسته راوړل کیږي.

4- **مورفین**: داهم د افیونو په څېر مشهور مخدره مواد دي، بلکه مورفین د افیونو په نسبت ډیر ثبات لري او وړل یې آسانه دی، چې په اوله کې د طبیبانو د اشتباه په وجه د ډیرو دوا ګانو په جوړښت کې ورته ځای ورکړل شو، خو وروسته بیا کشف شو چې دا ډیر خطرناکه مخدره مواد دي او ددې استعمال د معتاد کیدلو باعث ګرځي، د مرفینو اغیزې د تریاکو له اغیزو سره مشابهت لري، یاکه څوک د مرفینو روږدي وي او هغه ته لاس رسی پیدا نکړي نو د بې خوبی، د سترګو د رنګ د بدلون، د بدن د مختلفو ځایونو درد او نورو روانې ناروغیو باندې اخته کیږی.

5- **هیروئین**: هیروئین عبارت دی له هغو سپین رنګه توکو څخه چې په الکولو کې ویلی کیږي او په مخدره توکو کې ډیر قیمت لري، د انسان د صحت لپاره ترټولو خطرناک څیزدی او د کیمیایي لوبو عملیاتو په نتیجه کې لاس ته راځي، د هیروئینو اغیزې: کمزوری، د اشتهاکمښت او ویره کله چې ورته هغه ونه رسیږي نو ډیرکمزوری شي، اسهال، د معدې په دردونو، د ملا درد، تبه او داسې نورو ناروغیو اخته کیږي.

6- **بنګ**: چې په شیکران او سیکران سره نومول کیږي، دا داسې یو بوټی دی چې د ځمکې پرمخ د دایرې په شکل پلن کیږي او په اوسط ډول د یوه ګز څخه لږ څه کم جګیږي.

7- **قات**: دا یو بوټی دی چې تیټ دی او په هرقسم خاوره، او آب و هواکې زرغونیږي، پاملرنې ته څه خاصه اړتیانه لري، هیڅ آفت نه پرې راځي، او ملخ او نور حشرات یې هم نه خوري، لوړوالی یې تر دوه مترو او کله له دې هم ډیر لوړیږي، په افغانستان او د منځني آسیا په ځینو هیوادونو کې کرل کیږي، د قات اغیزې دادي چې ددې موادو همیشه استعمالونکی د خپل نفس ډیر تابع وي او همیشه ددې توکو د لاس ته راوړلو په شکل کې وي، په دې توکو چې څوک روږدي شي نو دغو افتونو عوارضو درلودونکی وي: د سردرد، د زړه د ټکانونو له خپل حد څخه ډیریدل، د سترګو په پردو کې د وینو تولیدل، د اشتها له منځه تلل، د جنسي قوت کمزورتیا چې په پای کې سلب کیږي، او د وینې د فشار لوړیدل.

8- **کوکایین**: کوکایین د کوکا په نامه له یوه بوټي څخه چې سپین رنګ لري لاس ته راځي، چې ډیرې ناوړه اغیزې منځ ته راوړي چې ځینې دادي:

د زړه نظام ګډوډکوي او په تنفسي جهازکې اختلال را پیداکوي، ناځاپي مړینه، او غوړونو کمزوري او لیونتوب را منځته کوي.

**د سګرټو او چلم د حرمت او کراهیت شرعي تحریمی دلایل یې**:

د خانیات نه خواړه دی او نه درمل نو ځکه حرام دی، په استعمال کې یې عبث او لهوولعب دی چې داسې څیزحرام وي، نشه ایز او مخدره ماده ده، هرهغه څه چې نشه راولی او مخدروي د شرابو په ډله کې راځي او شراب حرام دی او هرهغه څه چې مخدروي حرام وي پدې دلیل چې د حضرت ام سلمی حدیث دی( تقول نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل مسکرو مفتر)[۶] رسول اکرمﷺ هرنشه او سستي راوړنکی څخه منع کړیدی.

نو ځکه په هغې د تحریم حکم کیږي، د فتنې او مصیبت سبب کیږي، د عقل او نفس مفسد یا فاسدونکی دی، څرنګه سلیم عقل په سالم بدن کې وي او انسان له لمانځه او د خدای له ذکره باسی او دا کارد منقول دلیل پربنا حرام دی، دخانیات د عذاب له وسیلو څخه دی چې خدایﷻ هغه د عذاب په وخت کې یاد کړي، دهغه په وسیله نورو ته ضرر او اذیت رسیږی؛ یا ځکه چې په هغه کې انسان او ملایکو ته ضرردی پیغمبرﷺ فرمایی: ( فان الملایکة تتأذی ممایتأذی منه بنوآدم)[۷]

**ژباړه**: ( ځکه ملایکه د هرهغه څه نه په تکلیف کې کیږي چې کوم څه نه انسانان په تکلیف کیږي).

او اللهﷻ فرمایي: ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا ﴾ الأحزاب: ۵۸

**ژباړه**: یعنی څوک چې بی ګناه مسلمان نارینه او ښځینه آزاروي هغوي ناحقه تور او ښکاره ګناه پرغاړه واخیستلی، نو راځي د دارنګه ناوړه دودونو څخه ځانونه وژغورو او خپلې پاکې خولې، ژبې د داسې ګندګیو لکه نسوار، سګرت او داسې نورناوړه څیزونو څخه وساتو؛ ځکه ددی هریو غړی زموږ څخه پوښتل کیږي چې جایزوکې مو استعمال کړی اوکه نه؟.

**ماخذونه**:


۱– سعود بن عبدالعالی الباوردی، الفقة الاسلامی و ادلته، الطبعة الثانیة ۱۴۲۷ ټوک: (۱) مخ: ۶۹۵.
۲– سعود بن عبدالعالی الباوردی، الفقة الاسلامی و ادلته، الطبعة الثانیة ۱۴۲۷ ټوک: (۱) مخ: ۶۹۵.
۳– سعود بن عبدالعالی الباوردی، الفقة الاسلامی و ادلته، الطبعة الثانیة ۱۴۲۷ ټوک: (۱) مخ: ۶۹۵.
۴– الدکتور وهبه الزهیلی، الفقة الاسلامی و ادلته، ټوک ۷ مخ ۲۳۲، مکتبة الشاملة.
۵– الدکتور وهبه الزهیلی، الفقة الاسلامی و ادلته، ټوک ۷ مخ ۲۳۲، مکتبة الشاملة.
۶– مسند الامام احمد، د حدیث شمیره ۲۶۶۳۴.
۷– صحیح الامام مسلم د حدیث شمیره ۵۶۴.